بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

شنبه 18 ذی‌القعده، ۱۴۴۵هـ | ۲۰24/۰5/27م | گڼه: ح.ت.افغ 26/۱۴۴۵

**مطبوعاتي اعلاميه**

**د يهودو د جنايتونو افشا کول او د فلسطين د مسلمانانو غږ پورته کول «جرم» نه، بلکې د هر مسلمان شرعي مکلفيت دی**

د حزب التحرير دوه دعوتګر د ۱۴۰۲هـ.ق کال په لينديۍ مياشت کې د جلال اباد د استخباراتو لخوا پر غزې د يهودي رژيم د وحشيانه بريدونو د محکوميت په پار لاريونونو کې د وينا پر مهال نيول شوي. دغه دعوتګران له شپږو مياشتې راهيسې په بې برخليکه حالت کې دي او د جلال اباد محبس د زندانيانو ترمنځ «د فلسطن قضيې د زندانيانو» په نامه مشهور دي.

د حيرانتيا ځای دا دی چې له کوم وخت راهيسي او پر کوم شرعي اساس د يهودو د جنايتونو افشا کول او د فلسطين د مسلمانانو غږ بورته کول «جرم» ګڼل کېږي؟ د يهودي دولت جنايتونه او نسل‌وژنې دومره وحشيانه او پراخې دي چې ان سلګونه زره نامسلمانان يې اړ کړي چې ستر لاريونونه وکړي او محکوم يې کړي؛ خو له بده مرغه دا کار په يوه اسلامي خاوره کې منع دی او که يې څوک وکړي، ځواب يې زندان دی. ګورو چې په افغانستان کې حاکم نظام د غزې د جګړې په اړه د جمعي فعاليتونو مخه نيسي. په داسې حال کې چې دا د اسلامي امت د پوځونو او ځواکمنو مکلفيت دی چې د فلسطين د مظلومو خلکو دفاع ته ور ودانګي. د فلسطين مسلمانان د افغانستان مجاهدينو ته تمه لري او په وار وار يې غږ پرې کړي چې مرسته يې وکړي.

﴿وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾ [انفال: ۷۲]

**ژباړه:** *«کله چې څوک د دين لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې دوی ته نصرت ورکړئ.»*

دا استدلال چې د غزې د مسلمانانو مرسته يوازې د عربي او فلسطين د ګاونډيو خاورو مکلفيت دی، يوه نا شرعي پلمه او نا سياسي تمه ده. ځکه هغه کسان چې سياسي بصيرت لري، ښه پوهېږي چې دغو نظامونو تر اوسه د يهودو د جنايتونو درولو لپاره هيڅ نه دي کړي او له کړنو يې په ډاګه ده چې دا نظامونه د امريکا مزدوران او د يهودي رژيم سيوری دي. دا ادعا هم بې بنسټه ده چې موږ بايد لومړی ځان پياوړی کړو او بيا د فلسطين د مسلمانانو مرسته وکړو. که دا ادعا سمه وی، حاکم نظام به د نظامي اعداد پروژه مخته وړې وی او جدي هڅه به يې کړې وی چې ځان له نظامي اړخه دغې موخې ته مجهز کړي.

له بده مرغه، هغه څه چې د مجاهدينو د ښوونې او تجهيز پروسه کې ليدل کېږي، هغه دا دي چې د مجاهدينو د يو شمېر مسولينو ليد ورځ په ورځ تنګېږي او د افغانستان د قلمرو تر ملي پولو محدود شوی. په داسې حال کې چې مجاهدين بايد د بيت المقدس، کشمير، ختيځ ترکستان او نورو اسلامي خاورو د ازادۍ په فکر تربيه او تجهيز شي او د پولو ماتولو ته عملي پلان ولري. ځکه چې د اشغال شوو اسلامي خاورو ازادي هغه وجيبه ده چې بايد ژر تر ژره د واک څښتنان د هغو لپاره ګام پورته کړي.

کومې پېښې چې د فلسطین په مبارکه خاوره کې روانې دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټول امت ابتلا ده. تر ۲۰۰ زیاتو ورځو کې چې د غزې د جګړې له پیل راهیسې تېرې شوې، د لویو قدرتونو، نړیوالو بنسټونو، د بشري حقونو موسسو، د مسلمانانو د حکامو او واک د څښتنانو اصلي څېره افشا شوې؛ د دوی ډارن موقفونه په ډاګه شوي او صفونه جلا شوي. ته به وایې چې د غزې خلک په یوازې ځان د شرق او غرب د کفر د لښکرو پر وړاندې جنګېږي.

**وَ لِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَ يَمْحَقَ الْكافِرِينَ [آل عمران: ۱۴۱]**

**ژباړه:** *«او (د جګړې لوړې ژورې د دې لپاره دي) چې الله مومنان چاڼ او نږه کړي (او تکړه شي) او کافران (ورو ورو) ورک کړي»*

په دې کې هېڅ شک نشته چې د اخرت په ورځ به مسلمان حکام او د واک څښتنان په فلسطین کې د یهودو د جنایتونو پر وړاندې د چوپتیا په سبب د قهار رب پر وړاندې ځواب ویونکي وي او هغه کسان چې دعوتګران د خپل نفس د هوا له مخې او مظلومانو د غږ پورته کولو او د ظالمانو د جنایتونو افشا کولو په سبب زنداني کوي، له لا سختې محاسبې سره به مخ شي.

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر